# د امنیت او ازادۍ تقابل؛ که توافق؟

## د اسلامي شریعت او نړیوالو اسنادو په رڼا کې څېړنیزه مقاله

Ketabton.com

لیکوال : امدادالله تلاش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مطالبو فهرست

سریزه ..... 3
ستونزه ..... 4
مخکنیو لیکنو ته کتنه ..... 4
د څیړنې موخه ..... 4
د څیړنې اهمیت ..... 5
د څیړنې پوښتنې ..... 5
د څیړنې تګلاره ..... 5
د څیړنې حدود ..... 5
لومړی مبحث ـ د امنیت پیژندنه ..... 6
دویم مبحث ــ د ازادۍ پیژندنه او حدودات ..... 8
فرهنګي ازادي ..... 8
د اسلامي شریعت له نظره د بیان ازادي ..... 8
د اسلامي شریعت له لوري د بیان په ازادۍ وضع شوي، محدودیتونه ..... 11
د نړیوالو اسنادو له نظره د بیان ازادي ..... 11
د نړیوالو اسنادو له لوري د بیان په ازادۍ وضع شوي محدودیتونه ..... 13
سیاسي ازادي ..... 13
د اسلامي شریعت له نظره ټاکنې او د رایې ورکولو حق ..... 13
د ټاکنو په اړه د اسلامي نړۍ د عالمانو رایه ..... 14
د نړیوالو اسنادو له نظره ټاکنې ..... 15
پایله ..... 16
وړاندیزونه ..... 16

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سريزه

امنيت او ازادي دوه ډېرې مهمې ټولنيزې پديدې دي، چې بدبختانه په افغانستان کې په وروستۍ نيمه پيړۍ کې امنيت د ازادۍ او ازادي د امنيت په خاطر له منځه وړل شوې ده.

په يو وخت د امنيت او ازادۍ ټولنيزې پديدې ته نه پاملرنه، په فردي ازاديو نه باور او د امنيت د تعريف څخه غلط برداشت هغه عوامل دي، چې دغه ستونزه ورځ په ورځ د پراخيدو په حال کې ده.

د رواني او يا هم فزيکي امنيت نشتوالی، په حاکم نظام د خلکو بې باوري، د حاکم نظام سره د خلکو نه همکاري او حاکم نظام پردی او لاسپوڅی ګڼل هغه منفي اغيزې دي، چې د امنيت او ازادۍ د نه يو ځايوالي په صورت کې ټولنه ورسره مخامخ کيږي.

د حاکمې طبقې له لوري د افرادو طبيعي ازاديو ته احترام، د امنيت او ازادۍ د سلبوونکو عواملو پيژندل او هغه له منځه وړل، د وګړو له لوري د هغو محدوديتونو په پام کې نيول، چې د ټولنې له لوري په ازادۍ لګول شوي دي؛ هغه وسيلې دي، چې مونږ کولی شو په يو وخت کې ټولنه د امنيت او ازادۍ څخه برخمنه کړو.

په همدې خاطر مونږ هم وغوښتل، چې په دغې ټولنيزې ستونزې ليکنه وکړو. په داسې ډول چې په لومړي مبحث کې د ازادۍ او امنيت په پيژندنه او په دويم مبحث کې د ازادۍ د بيلابيلو ډولونو په ارتباط د اسلامي شريعت او نړيوالو اسنادو په رڼا کې بحث وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستونزه

امنيت او ازادي د منان رب (ج) هغه ستر نعمتونه دي، چې د دواړو د شتون څخه پرته ژوند بې مانا دی؛ خو بدبختانه په وروستی نیمه پیړۍ کې مونږ ونه شو کولی، چې ټولنه په یو وخت کې د دغو دوو نعمتونو څخه برخمنه کړو؛ په دې مانا چې امنيت مو د ازادۍ او ازادي مو د امنيت قرباني کړل. او ځينو ځينو خو حتا دا هم منلې ده، چې یوه ټولنه نه شي کولی په یو وخت کې امنيت او ازادي ولري. نو په همدې خاطر مې وغوښتل په دغې موضوع څېړنه وکړم.

## مخکنيو ليکنو ته کتنه

د امنيت او ازادۍ مسله يو له هغو مسايلو څخه ده، چې د ډېر وخت څخه راپديخوا پوهانو او ليکوالانو پرې ليکنې کړې دي. ځينو ليکوالانو يواځې د امنيت فزيکي برخې ته پاملرنه کړې ده او ځينو ليکوالانو يواځې د ازادۍ برخه تر پوښښ لاندې راوستې ده. مونږ د دغو دواړو برخو د ليکنو څخه په کار اخيستنې د امنيت او ازادۍ په يوځايوالي بحث کړی دی. چې په دې اړوند ليکنې په لاندې ډول دي:

۱. د ښځو سياسي حقوق د معاون څېړنوال سيد حبيب شاکر اثر.

۲. معما صلح و امنيت در افغانستان د داکتر فرامزر تمنا اثر.

۳. بيعت و انتخابات در کشور های جهان د مرتضی حامد اثر.

۴. حق ازادی بيان او ديدگاه شريعت اسلام د نصير احمد تايب مقاله.

## د څېړنې موخه

د اسلامي شريعت او نړيوالو اسنادو له نظره د امنيت او ازادۍ د بيلابيلو اړخونو څېړل، د دغې څېړنې موخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې اهمیت

څرنګه چې انسانان په ټولنه کې ژوند کوي او د دغه ټولنیز ژوند د مخته وړلو لپاره یو سلسله سهولتونو او امتیازاتو ته اړتیا لري، چې د هغو د جملې څخه امنیت او ازادي ډېر ستر امتیاز دی او د ژوند د مخته وړلو لپاره امنیت او ازادي، ډېر زیات اهمیت لري؛ نو څرنګه چې امنیت او ازادي ډېر زیات اهمیت لري، نو په همدې خاطر د امنیت او ازادۍ په اړوند څېړنه هم زیات اهمیت لري.

## د څېړنې پوښتنې

١. امنیت او ازادي څه شی دی؟

٢. امنیت مهم دی، که ازادي؟

٣. اسلامي شریعت او نړیوال اسناد د ازادۍ په اړوند څه حکم کوي؟

## د څېړنې تګلاره

دغه څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده، چې د کتابونو، مقالو او مجلو څخه په کې کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې حدود

دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده. په دغې څېړنه کې مونږ د اسلامي شریعت او نړیوالو اسنادو له نظره د امنیت او ازادۍ په بحث بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی مبحث ـ د امنیت پیژندنه

امنیت په لغت کې د ویرې او ډار څخه خلاصون ته ویل کیږي.[1]
او په اصطلاح کې امنیت هم لکه د نورو ټولنیزو پدیدو په شان بیلابیل تعریفونه لري؛ خو په ټوله کې د امنیت د تعریف په اړوند دوه نظریې شتون لري، چې یوه یې پخوانۍ نظریه او بله یې اوسنۍ نظریه ده، چې په لنډ ډول دواړه تربحث لاندې نیسو:
د پخوانۍ نظریې په اساس امنیت د هغو نظامي تهدیداتو نشتوالي ته ویل کیږي، چې د انسان سر او مال ته خطر پیښوي.[2]
په دغه تعریف کې امنیت یواځې نظامي اړخونو ته شاملیږي او هغه مسایل په برکې نیسي، چې ادراکي ( محسوسي ) ځانګړتیاوې ولري.

د اوسنۍ نظریې په اساس امنیت هغه حالت ته ویل کیږي، چې نظامي تهدید، ډار، ویره او تردد په ټولنه واکمن نه وي. یا په بل عبارت امنیت په اوسنۍ مانا سره سوله، ازادي، اعتماد، سلامتي او داسې نور شیان په برکې نیسي.
د سوړ جنګ په دوران کې د امنیت تعریف او پیژندنه یواځې او یواځې د نظامي او سیاسي علومو په واسطه ترسره کیده، خو د شوروي اتحاد د له منځه تللو څخه وروسته د امنیت مفهوم څو اړخونه لکه اقتصادي، سیاسي، نظامي، فرهنګي او چاپیریالیزې برخې په بر کې رانغاړي.[3]
دا چې مونږ او تاسو د امنیت دواړه پخواني او اوسني تعریفونه وپیژندل؛ اوس دلته یوه پوښتنه پیداکیږي او هغه دا چې په دغو دواړو تعریفونو کې کوم تعریف کره او د منلو وړ ده؟

زما په نظر د لاندې دلایلو په اساس د امنیت لپاره اوسنۍ تعریف د پخواني تعریف څخه غوره ده:

۱ـ د ټولنې د اړتیاوو له حیثه : که د اوسنیو ټولنو اړتیاوې په دقیق ډول وڅیړو؛ نو دا مسله به په ډاګه شي، چې د ټولنې اوسنۍ اړتیاوې یواځې نظامي امنیت نه دی؛ بلکې ټولنې غواړي، چې د افرادو سر او مال دې خوندي وي، په سوله کې ژوند وکړي او ازادي ولري. د هیڅ ډول محدودیت پرته د مسایلو په اړوند خپل نظر وړاندې کړي.

۲ـ د تاریخي تجربو له حیثه : که د ګران هیواد افغانستان د تیرې نیمې پیړۍ تحولات او بدلونونه په دقیق ډول تر مطالعې لاندې ونیول شي، نو په واضح ډول معلومیږي، چې د

---

[1] : لغت نامه دهخدا
[2] : معما صلح و امنیت افغانستان، دکتور فرامرز تمنا، ص ۱۳.
[3] : امنیت چیست؟ (۱۴۰۰/۶/۲۷) www.wikepedia.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو عواملو ترڅنګ يو ستر لامل د امنيت او ازادۍ موضوع ده؛ لکه په افغانستان د چپي ګوندونو د حاکميت په وخت کې امنيت وه، خو ازادي نه وه ( البته بايد يادونه وکړم چې ټولنه يوې هديرې ته ورته وه، هيچا نه شول کولی په ډېرو عادي موضوعاتو کې خپل نظر وړاندې کړي او که چا به خپل نظر وړاندې کاوه، نو د وخت د دولت له لوري په مرګ محکوميده ) افغانانو وغوښتل چې د دغه امنيت تر څنګ بايد ازادي هم ولري، هماغه وه چې واک مجاهدينو ته وليږدول شو. د مجاهدينو په وخت کې امنيت نه وه؛ يواځې او يواځې ازادي وه او هر چا چې هر څه غوښتل کولی يې شول. د مجاهدينو په وخت کې په ولس هغه څه وشول، چې تاريخ يې په يادولو شرميږي. ولس د دغو ازاديو څخه په تنګ شو او ويې غوښتل، چې دغه ازدي په امنيت بدله کړي، نو په همدې اساس يې طالبانو ته لبيک ووېلې. د طالبانو په دوره کې ولس د ټولو نظامي تهديداتو لکه؛ قتل، غلا، چور او چپاول او داسې نورو څخه په امن کې شو. خو څرنګه چې امنيت د ازادۍ او ازادي د امنيت څخه پرته کومه مانا نه لري او ژوند بې خونده کوي، نو د ټولنې يو څو منفورو او ځانغوښتو اشخاصو د دې پر ځای، چې ستونزې ته اساسي حل لاره پيدا کړي، د بهرنيو په مرسته يې د طالبانو د دور امنيت يې له منځه يووړ او په يوې نسبي او بې بندوباره ازادۍ يې بدل کړ. خو دا ازادي دومره بې مانا او پراخه ازادي وه، چې مونږ خپل فرهنګ او ارزښتونه په کې له لاسه ورکړل او ولس د بيا ځلي لپاره طالب ته لبيک ووېلې؛ نو د پورته تاريخي تجربو په اساس ويلی شو، چې د امنيت په اړوند اوسنی تعريف غوره دی.

۳ـ د بشري عواطفو له حيثه : په خپل هيواد کې د امنيت او ازادۍ درلودل د بشري عواطفو پورې تړاو لري او که چيرته دواړه په يو وخت کې شتون ونه لري، نو د ټولنې وګړي بغاوت ته تمايل پيدا کوي. د بيلګې په ډول که چيرته په يو هيواد کې ازادي شتون ونه لري، د ټولنې غړي د غلامۍ احساس کوي او که چيرته امنيت شتون ونه لري؛ نو د پرديوالي احساس کوي.
نو د پورته د لايلو په اساس د امنيت په اړوند اوسنی تعريف د پخواني تعريف څخه غوره ده.

تر دې ځايه په دې وپوهيدو، چې يوه ټولنه هغه وخت د بشپړ امنيت څخه برخمنه ده، چې د فزيکي امنيت تر څنګ رواني امنيت هم شتون ولري. د وګړو د فزيکي امنيت په اړوند د نظر يووالی شتون لري، چې دولتونه مکلف دي؛ د وکړو امنيت وساتي. د بحث اساسي نقطه د ازادۍ په پيژندنې او د هغې په حدوداتو کې ده، چې په دې برخه کې به يې تر بحث لاندې نيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم مبحث ـــ د ازادۍ پېژندنه او حدودات

ازادي په لغت کې حریت، ارامتیا او د غیر د سلطې څخه خلاصون ته ویل کیږي.[4]
ازادي بیلابیل ډولونه لري، چې ډېر مشهور یې عبارت دي؛ له فرهنګي ازادۍ او سیاسي ازادۍ څخه، چې هر یو به په جلا ډول تر بحث لاندې ونیسو:

### فرهنګي ازادي

د هغې ازادۍ څخه عبارت دی، چې په واسطه یې یو شخص کولی شي؛ په فرهنګي برخه کې په ازادانه ډول فعالیت وکړي. [5]
فرهنګي ازادي بیلابیلو برخو ته شاملیږي لکه د زده کړو په برخه کې ازادي، په ازاد ډول په ټولنه کې فرهنګي فعالیتونه ترسره کول او داسې نور... چې ډېره مهمه او مشهوره برخه یې د بیان ازادي ده، چې په دې برخه کې یې تر څېړنې لاندې نیسو.
د بیان ازادي د اسلامي شریعت او نورو نافذه قوانینو په چوکاټ کې د معلومې موضوع په اړوند خپل نظر بیانولو ته ویل کیږي. د بیان ازادي د فطري حقوقو له جملې څخه یو حق دی، چې الله (ج) انسان ته ورکړی، چې د استعدادونو په ودې، د ټولنې مادي او معنوي تکامل او د بیلابیلو جوړښتونو د اصلاح لپاره باید تري ګټه واخیستل شي.[6]
د بیان ازادي د حقوقي ازادۍ یوه برخه ده، چې په اسلامي شریعت کې ورته ډېره پاملرنه شوې ده. په دې مانا چې یو شخص په دې خاطرد تعقیب لاندې ونه نیول شي، چې د نورو سره سیاسي او یا دیني اختلاف لري.

### د اسلامي شریعت له نظره د بیان ازادي

اسلام د ژوند یو شامل او کامل نظام دی، چې په هر وخت او هر ځای کې د بشر اړتیاوو ته ځواب وایي. دا چې د بیان ازادي یوه بشري اړتیا ده، نو اسلامي شریعت د دغې ازادۍ د ملاتړ ترڅنګ په ځینو حالاتو کې مسلمانان هڅولي، چې خپل نظر وړاندې کړي؛ خو د دې سره سره یې په ټولنه کې د ګډوډۍ د مخنیوي لپاره ځینې محدودیتونه هم پرې لګولي.
چې دلایل یې په لاندې ډول روښانه کوو:

---

4 : فرهنګ عمید
5 : ازادي څه ته وایي (۱۴۰۰/۶/۲۴) www.wikepedia.com
6 : حق ازادی بیان از دیدگاه شریعت اسلام، نصیر احمد تایب، ص ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: الله (ج) د رحمن سورت په لومړيو څلورو ايتونو کې فرمايي:

ژباړه : رحمان. ښوولی دی قران ( هغه چاته چې اراده يې شوې ده د قران ښوولو ) پيدا کړی يې دی انسان. بيايې ورښوولی دی بيان ( خبرې چې د زړه مقصدونه يې پرې ادا کيږي ).[7]

د پورتني ايت شريف څخه په واضح ډول معلوميږي، چې د بيان ازادي اسلام منلې ده او د انسان د پيدا کيدو سره سم الله (ج) دغه حق ده ته ورکړی دی؛ تر څو هغه افکار او عقايد چې د انسان سره شتون لري، هغه بيان کړي.

ب: الله (ج) د احزاب سورت په (۷۰) نمبر ايت شريف کې فرمايي:

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ( يعنې ای مومنانو! ) وويريږئ له عذاب د الله او ووايئ خبره سمه محکمه رينيتيا. [8]

د پورتني مبارک ايت څخه معلوميږي، چې په هغې موضوع کې، چې يو څوک پوهيږي، د هغې په اړوند بيان کول حق؛ نه بلکې مکلفيت دی، چې په مقابل کې يې الله (ج) ډير ستر اجرونه بنده ته ورکوي.

ج: د بدر د غزا څخه مخکې کله، چې د الله (ج) رسول محمد (ص) ته دا ثابته شوه، چې د جګړې څخه پرته بله لار نشته، نو مشورتي شورا يې راوغوښتله او په ټولو حالاتو يې رڼا واچوله او له اصحابانو سره يې په دې ارتباط نظريات تبادله کړل. ابوبکر (رض) پاڅيد او ډيرې ښې خبرې يې وکړې؛ بيا مقداد بن عمرو (رض ) وويل يا رسول الله (ص) مونږ. درسره يو، هغه کار وکړه، چې الله (ج) يې امر کړی دی؛ خو څرنګه چې دغه دواړه صحابه مهاجر وه؛ نو حضرت محمد (ص) تر هغې پريکړه ونه کړه، تر هغو چې يې د انصارو نظريات وانه وريدل او د انصارو څخه يې پوښتنه وکړه ای خلکو! ستاسې رايه څه ده؟ انصارو مشر او علمبردار سعد بن معاذ (رض) په مطلب پوه شو او ويې فرمايل، مونږ. ايمان درباندې راوړی او ستا تصديق مو کړی او د دې شاهدي مو ورکړې هغه څه چې تا راوړي ټول حق دي؛ څه چې غواړې همغه وکړه.[9]
نو د پورتنۍ پيښې څخه معلوميږي، چې حضرت محمد (ص) خپلو اصحابانو ته د بيان د ازادۍ حق ورکړی وه او د بيان ازادي د اسلام سره په ټکر کې موضوع نه ده.

د: د حديبې د سولې تړون، چې د مسلمانانو او کفارو ترمنځ لاسليک شو او داسې شرايطو په دې تړون کې شتون درلود، چې هغه ظاهراً کفارو ته زيات امتيازات ورکړل شوي وه،

---

[7] : د قران کريم پښتو ژباړه، د سعودي د اوقافو رياست، دويم ټوک، ص ۱۶۴۷
[8] : د قران کريم پښتو ژباړه، د سعودي د اوقافو رياست، دويم ټوک، ص ۱۳۰۷
[9] : صفي الرحمن مبارکفوري (۲۰۰۷ م). االرحيق المختوم (سپيڅلی نبوي سيرت)، ژباړن: سلطان محمود صلاح، پېښور، القلم، ص ۴۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دغې مسلې صحابه کرامو ته تشویش پیدا کړی وه، حضرت عمر فاروق (رض) راغی او حضرت محمد (ص) ته یې عرض وکړ یا رسول الله ایا مونږ په حق او هغوي په باطل نه دي؟ حضرت محمد (ص) ورته وفرمایل (بلې ) هو. بیا عمر (رض) وویل ایا زمونږ مړي به په جنت او د هغوي مړي به دوزخ کې نه وي؟ حضرت محمد (ص) وفرمایل (بلې ) هو. عمر (رض) وفرمایل نو ولې دا ذلت ورسره منو؟ حضرت محمد (ص) ورته وفر مایل ای د خطاب زویه زه د الله (ج) رسول یم، د هغه هیڅ نافرماني نه کوم، هغه مې بې اسرې نه پرېږدي.[10]
د پورتنی پیښې څخه معلومیږي، چې حضرت محمد (ص) عمر فاروق (رض) ته وخت ورکړ، چې خپل نظر وړاندې کړي او د هغه د نظر د اوریدلو څخه وروسته یې هغه ته قناعت ورکړ.

هـ: رسول الله (ص) په یو حدیث شریف کې فرمایي ( تر ټولو افضل جهاد د ظالم واکمن پر وړاندې د حق وینا ده.[11]

د پورته دلایلو په ذکر کولو سره دا مسله واضح شوه، چې د بیان ازادي په اسلامي شریعت کې د ملاتړ لاندې ده او تر دې ځایه موضوع واضح شوه؛ خو اوس یو سوال دلته پیداکیږي، چې په اسلام کې د بیان ازادۍ ته ولې اړتیا ده؟
د لاندې دلایلو په ذکر کولو سره دغې موضوع ته جواب ورکوو:

۱. د امر باالمعروف او نهي عن المنکر له حیثه : د اسلامي شریعت د اوامرو په اساس ښو کارونو ته هڅول او د بدو کارونو څخه منع کول د هر مسلمان اساسي دنده ده. د دغې اساسي دندې د ترسره کولو لپاره د بیان د ازادۍ شتون اړین دی؛ ځکه که چیرته یو څوک د دې حق ونه لري، چې خپل نظر وړاندې کړي، نو نه شي کولی، چې بل مسلمان ښو کارونو ته وهڅوي او د بدو کارونو څخه یې منع کړي. [12]

۲. د مشورې له حیثه : شورا او مشوره د خپل نظر د وړاندې کولو په مانا کارول کیږي. په اسلامي شریعت کې د یو کار په ترسره کولو کې په مشوره ډیر ټینګار شوی. نو څرنګه چې په مشوره امر شوی او مشوره د خپل نظر د وړاندې کولو په مانا کارول کیږي؛ نو کله چې یو څوک د بیان ازادي ونه لري، نو نه شي کولی بل مسلمان ورور ته مشوره ورکړي.[13]

[10] : د رسول الله (ص) ژوند او سیرت، مولانا عتیق الله ثاقب، ص ۲۰۴
[11] : ریاض الصالحین، امام ابی زکریا، ژباړن عبدالله خاموش هروی، ص ۲۲۹
[12] : حق ازادی بیان از دیدگاه شریعت اسلام، نصیر احمد تایب، ص ۱۷
[13] : ازادي څه ته وایي (۱۴۰۰/۶/۲۴) www.wikepedia.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورته دوه اهمو دلایلو په اساس اسلامي شریعت خلکو ته د بیان د ازادئ حق ورکړی، تر څو د خپلو نیکو نظریاتو څخه په ګټې اخیستنې په ټولنه کې د اصلاح سبب وګرځي.

## د اسلامي شریعت له لوري د بیان په ازادئ وضع شوي، محدودیتونه

په اسلامي شریعت کې د بیان په ازادئ لاندې محدودیتونه شتون لري، یا په بل عبارت هیڅوک نه شي کولی د بیان د ازادئ څخه په ګټې اخیستنې د لاندې کړنو مرتکب شي:

۱. الله (ج) او د هغه پیغمبر ته سپکاوی.

۲. د مقدساتو توهین.

۳. نورو ته سپکاوی.

۴. د فساد او فحشاوو خپرول.

۵. د بیان د ازادئ څخه په ګټې اخیستنې د حکومت د نظامي اسرارو خپرول.[14]

### د نړیوالو اسنادو له نظره د بیان ازادي

لکه څرنګه چې د بیان ازادي د ټولنې د چارو د ښه والي او اصلاح لپاره اړینه ده؛ نو په همدې خاطر نړیواله ټولنه هم دې موضوع ته متوجه شوې او په بیلابیلو اسنادو کې یې د بیان ازادي د انسانانو د یو اساسي حق په عنوان تسجیل کړې ده او په ډېر اهمیت ورته قایل شوي دي، چې د هغې له جملې څخه د ځینو اسنادو یادونه کوو:

۱. د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په (۱۹) ماده کې د بیان ازادئ ته اشاره شوې ده، چې عبارت یې په لاندې ډول ده ( هر څوک د بیان او عقیدې د ازادئ حق لري او دغه حق دېته شاملیږي، چې هیڅوک هم باید د خپلې عقیدې د ازادئ څخه ویره ونه لري او د اطلاعاتو او افکارو په اخیستلو او نشرولو کې د ټولو امکاناتو څخه ګټه واخلي او د مرزي ملاحظاتو څخه پرته ازاد وي).[15]
دغه ماده د عقیدې د بیان په برخه کې د اسلام د مبین دین سره په ټکر کې ده او اسلام خپل منطقي دلایل لري، چې دغه مقاله یې د بیان جوګه نه ده. البته یادونه باید وکړو چې د ازادئ

[14] : حق ازادی بیان از دیدگاه شریعت اسلام، نصیر احمد تایب، ص ۲۵
[15] : د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه زمونږ موخه په ټولنيزه برخه کې د چارو د ښه والي په خاطر د افکارو او نظرياتو وړاندې کول دي.

۲. د بشري حقوقو اسلامي اعلاميې په (۲۲) ماده کې د بيان ازادۍ ته په لاندې ډول اشاره کړې ده:

الف: هر انسان حق لري، چې خپل نظر په هر شکل چې د شرعي اصولو سره په ټکر کې نه وي؛ په ازاد ډول بيان کړي.

ب: هر انسان حق لري د معروف د عاملو او د منکراتو ځخه د منع کولو لپاره د اسلامي شريعت د ضوابطو په رڼا کې دعوت وکړي.

ج: تبليغات د ټولنې يوه حياتي اړتيا ده او د تبليغاتو ځخه ناوړه ګټه اخيستنه، په مقدساتو، انبياوو او کراماتو حمله او د هر هغه څه ځخه ګټه اخيستنه چې په ارزښتونو کې اخلال رامنځته کړي او يا د ټولنې باورونو ته صدمه ورسوي منعه دي.

د: د قومي يا مذهبي احساساتو راپارول او يا هر هغه احساس چې نژادي تبعيض د رامنځته کولو سبب شي، جايز نه ده.[16]

۳. د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق په ( ۱۹) ماده کې د بيان ازادۍ ته په لاندې ډول اشاره شوې ده:

الف: هر څوک حق لري، چې خپل نظريات د نورو د دخالت او منع کيدو ځخه پرته وړاندې کړي.

ب: هر څوک د بيان د ازادۍ حق لري، چې دا حق د اطلاعاتو د پلټنې، تحصيل او خپرولو او هر ډول افکارو او سرحدونو ته له پاملرنې پرته په شفاهي، ليکلي، چاپ، هنري يا بلې هرې وسيلې چې خپله يې انتخابوي، شامليږي.[17]

د پورته دلايلو په ذکر کولو سره دا مسله واضح شوه، چې د بيان ازادي د نړيوالو اسنادو له لوري د ملاتړ لاندې نيول شوې ده.

---

[16] : د بشر حقوقو اسلامي اعلاميه
[17] : د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړیوالو اسنادو له لوري د بیان په ازادۍ وضع شوي محدودیتونه

۱. د شرعي اصولو سره په ټکر کې نه وي،

۲. مقدساتو او د ټولني باورونو ته احترام،

۳. د تعصب او تبعیض خپرول،

۴. د نورو حقوقو او حیثیت ته احترام،

۵. د ملي نظم او امنیت ساتل.[18]

## سیاسي ازادي

د سیاسي ازادۍ څخه موخه د بیلابیلو سیاسي مسایلو په اړوند خپل نظر وړاندې کولو او د یو سیاسي فکر خپرولو ته ویل کیږي، چې مهم ډولونه یې د سیاسي ګوندونو جوړول او د انتخابولو او انتخابیدلو حق دی[19]، چې مونږ یې په دې برخه کې د رایې ورکولو حق تر څیړنې لاندې نیسو.

## د اسلامي شریعت له نظره ټاکنې او د رایې ورکولو حق

اسلام د نورو ټولنیزو پدیدو په څیر د ټاکنو په اړوند هم په اهمیت قایل دی او د وګړو رایې او نظر ته ارزښت ورکوي، چې په لاندې ډول یې روښانه کوو:

۱. د عقبې په دوهم بیعت کې ټاکنې؛

د نبوت په دیارلسم کال د حج په موسم کې (۷۰) او څوګ وایي (۷۳) تنه نارینه او په دې کې دوه تنه ښځې وې، مکې ته راغلل، نو مومنانو په خپل منځ کې مشوره وکړه، ویې ویل تر څو به رسول الله (ص) په مکه کې د ډار او ویرې ژوند تیروي، هغه (ص) به مدینې ته را دعوت کړو، چې هلته راشي او یو ارام او اسوده ژوند تیر کړي، کله چې مکې ته راورسیدل نو د رسول الله (ص) سره یې رابطه وشوه ، دواړو خواوو پریکړه وکړه، چې د تشریق د ورځو په منځ کې د منې په هغه برخه کې چې لومړنی جمرې ته نژدې ځای او

[18]: حق ازادی بیان از دیدگاه شریعت اسلام، نصیر احمد تایب، ص ۳۳

[19]: د ښځو سیاسي حقوق، معاون څیرنوال سید حبیب شاکر، ص ۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقبه نوميږي يو له بل سره مخامخ په پوره چوپه چوپتيا کې د شپې په پټه وګورو.
رسول الله (ص) د دې بيعت په وخت کې د ډيرې هوښيارتيا او ځيرکتيا څخه کار واخيست، ځکه رسول الله (ص) يو ستر مدبر او پوه قايد او لارښود وه، نو په دې وخت کې يې د انصارو د صحابه کرامو څخه دولس نقيبان طلب کړل، چې تاسې ماته دولس مشران را معرفي کړئ، دغه مشران به خپل قوم تياره وي، زما همکاري او مرسته به کوي او زما دفاع به کوي.[20]
د پورته واقعې څخه معلوميږي، چې په اسلام کې انتخاباتو ته ځای شته؛ ځکه رسول الله (ص) انصارو صحابه کرامو ته دا وخت ورکړ، چې په خپل منځ کې انتخابات وکړي او خپل استازي هغه (ص) ته ور وپيژني.

۲. د ابوبکر صديق (رض) ټاکنه؛

د رسول الله (ص) د رحلت څخه وروسته او د تجهيز او تکفين څخه مخکې د خلافت په اړه اختلاف  راپيدا شو، د انصارو او مهاجرينو ترمنځ بحث او مناقشه پيل شوه. دوي په سقيفه بني ساعده کې راټول شوي وه، د خلافت په اړه يې ډير بحث وکړ، حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر صديق (رض) ته د بيعت لاس وړاندې کړ او نورو صحابه کرامو  هم د هغه څخه پيروي وکړه او حضرت ابوبکر صديق (رض) سره يې بيعت وکړ.[21]

په پورته واقعه کې حضرت عمر (رض) ابوبکر صديق (رض) د خلافت لپاره کانديد کړ، چې نورو صحابه کرامو  هم رايه ورکړه.[22]

## د ټاکنو په اړه د اسلامي نړۍ د عالمانو رايه

مفتي تقي، مفتي محمد شفيع (رح) او دکتور يوسف قرضاوي وايي، ټاکنې د شهادت سره ورته دي، په هماغه ډول چې د دروغو شهادت حرام او ناروا دی، د رښتيا شهادت پټول هم حرام دي.[23]
دکتور يوسف قرضاوي هغو کسانو ته، چې بيعت او په اوسنۍ اصطلاح ټاکنو ته احترام نه کوي، داسې خبرداری ورکوي؛ ( هغه خلک چې په ټاکنو کې ګډون نه کوي او د دوي نه ګډون د لايقه، په کارپوه او پرهيزګاره اشخاصو د څنډې ته کيدو لامل شي او نالايقه افراد، يا هغه کسان چې دوه ځانګړتياوې ( وړتيا او امانتداري ) ونه لري، رايه ترلاسه کړي؛ په واقعيت کې يې د الله (ج) د هغه امر چې د شهادت د اداکولو او نه پټولو په اړه ده، نافرماني

[20] : مولانا اکبر شاه نجيب آبادی (۱۴۲۵ه ق). د اسلام تاريخ، ژباړن: سيد فضل مولا لټون، قصه خوانی بازار پيښور،پيغام، ټوک (۱)،
[21] : د رسول الله (ص) ژوند او سيرت، مولانا عتيق الله ثاقب، ۱۷۶
[22] : بيعت و انتخابات در ګشور های جهان، مرتضی حامد، ۴۴
[23] : بيعت و انتخابات در ګشور های جهان، مرتضی حامد، ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ده او د مسلمانو د مصالحو په اړوند يې بې توجهي کړې ده).[24]

## د نړيوالو اسنادو له نظره ټاکنې

۱. بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې (۲۱) ماده د ټاکنو په اړوند لاندې حکم کوي:

الف: هر څوک حق لري، چې په مستقيمه توګه او يا د خپلو استازو له لارې د هيواد په عمومي چارو کې ګډون وکړي.

ب: هر څوک حق لري، چې په برابره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.

ج: د خلکو اراده د حکومت واک او بنسټ دی، دغه اراده بايد په نوبتي ډول د ربښتينو انتخاباتو له لارې څرګنده شي، چې دغه انتخابات بايد په عمومي او د برابرئ په پام کې نيولو سره د پټې رايې او يا نورو انتخاباتي بيلګو په ډول داسې سرته ورسيږي، چې د رايو ازادي تامين کړي.[25]

۲. د بشري حقوقو اسلامي اعلاميې (۲۳) ماده د ټاکنو په اړوند لاندې حکم کوي:

الف: ولايت هغه امانت دی، چې د هغې څخه استبداد يا ناوړه ګټه اخيستنه؛ جداً ممنوع ده، ځکه چې اساسي حقوق د دغې لارې څخه تامينيږي.
ب: هر انسان حق لري، چې د خپل هيواد د چارو په اداره کولو کې په مستقيم او يا غير مستقيم ډول ونډه ولري، همدارنګه هغه کولی شي، عمومي بستونه د شريعت د احکامو په رڼا کې ترلاسه کړي.[26]
د پورتنۍ مادې په دويمې فقرې کې د غير مستقيم څخه موخه د استازو له لارې ګډون کول دي او استازي د ټاکنو له لارې ټاکل کيږي، نو په همدې خاطر وايو چې د بشر حقوقو اسلامي اعلاميې ټاکنې د نظام يوه برخه ګڼلې ده.[27]

۳. همدارنګه د مدني او سياسي حقوقو د نړيوال ميثاق (۲۵) مادې هم انتخابات د چارواکو د ټاکلو لار بللې ده.[28]

---

[24] : بيعت و انتخابات در کشور های جهان، مرتضی حامد، ۴۳
[25] : د بشر حقوقو نړيواله اعلاميه
[26] : د بشر حقوقو اسلامي اعلاميه
[27] : بيعت و انتخابات در کشور های جهان، مرتضی حامد، ۴۷
[28] : د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

امنیت او ازادي دوه هغه ټولنیزې پدیدې دي، چې یوه د بل څخه پرته کومه مانا نه لري. اسلام چې د ژوند یو شامل او کامل نظام دی او د ژوند ټول اړخونه یې په بر کې نیولي دي. که چیرته د اسلام تاریخ په دقیق ډول مطالعه شي، نو وبه پوهیږو، چې اسلام نه یوازې دا چې د بیان ازادي، یې په رسمیت پیژندلې؛ بلکې د ټولني افراد یې هڅولي، چې د ټولنې د اصلاح لپاره خپل نظریات وړاندې کړي. بله موضوع د ټاکنو موضوع ده، چې دا هم د اسلام په تاریخ کې شتون لري او د اسلام پیغمبر حضرت محمد (ص) د نبوت په وخت کې د افرادو په ټاکنه کې د انتخاباتو څخه ګټه اخیستې ده. همدارنګه نړیواله ټولنه هم د بیان د ازادۍ او ټاکنو په اړوند بې تفاوته نه ده؛ بلکې د بیلابیلو سندونو له لارې یې د بیان ازادي او سرتاسري ټاکنې د افرادو د اساسي حقوقو څخه ګڼلې دي.

## وړاندیزونه

۱. د بیان ازادۍ ته باید ژر تر ژره یو قانوني چوکاټ جوړ کړل شي.

۲. حکومت باید د وکړو ماناداره د بیان ازادۍ ته احترام وکړي.

۳. وکړي باید د بیان د ازادۍ څخه په ګټې اخیستنې د ټولنې عامه نظم مختل نه کړي.

۴. د شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې باید د بیان د ازادۍ په اهمیت وګړي وپوهول شي.

۵. ژر تر ژره سرتاسري ټاکنو ته لاره هواره شي، تر څو وګړي ځان په واک کې برخوال وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه:


۱. د قران کریم پښتو ژباړه، د سعودي د اوقافو ریاست

۲. ریاض الصالحین، امام ابی زکریا، ژباړن عبدالله خاموش هروی

۳. صـــفي الـــرحمن مبـــارکفوري (۲۰۰۷ م). الرحیـــق المختـــوم (ســـپیڅلی نبـــوي سیرت)، ژباړن: سلطان محمود صلاح، پېښور

۴. مولانـــا اکبـــر شـــاه نجیـــب آبـــادی (۱۴۲۵ه ق). د اســـلام تـــاریخ، ژبـــاړن: ســـید فضل مولا لټون، قصه خوانی بازار پېښور

۵. د رسول الله (ص) ژوند او سیرت، مولانا عتیق الله ثاقب

۶. بیعت و انتخابات در کشور های جهان، مرتضی حامد

۷. د ښځو سیاسي حقوق، معاون خیرنوال سید حبیب شاکر

۸. معما صلح و امنیت افغانستان، دکتور فرامرز تمنا

۹. حق ازادی بیان از دیدگاه شریعت اسلام، نصیر احمد تایب

۱۰. د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه

۱۱. د بشر حقوقو اسلامي اعلامیه

۱۲. د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق

۱۳. لغت نامه دهخدا

۱۴. فرهنگ عمید

۱۵. امنیت چیست؟ (۱۴۰۰/۶/۲۷) www.wikepedia.com

۱۶. ازادي څه ته وايي (۱۴۰۰/۶/۲۴) www.wikepedia.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**